# د قاسم علي خان د پښتو ديوان د قلمي نسخې پېژندګلو

# Introduction of Qasim Ali Khan's Pashto manuscript

Faqir Muhammad [1]

Qasim Ali khan is one of poet's of classical period. He belongs to Village Akhor of Dara Adam Khel. His Grand Father migrated to Hind and spent his most of times in India in different places. He was born on 1183 in Farukh Abad of Uttar pardesh. Manuscript of his kulyat in which six books is in the library of Islamia College. One of these manuscripts "Urdu Deewan" has published and other five are still unpublished. In this article I will discuss about his Pashto Deewan in the light of subjective and objective study which are part of textual criticism. This study will show the history and environment, criticism, civilization of that time and internal and external evidence about manuscripts. This study also deals with the linguistics study of his poetry that is word formation and grammatical use of sentence.

قاسم علي خان افريدے د پښتو ژبې او ادب په حواله ورک نوم نۀ دے خو د بدقسمتۍ نه د هغۀ په کار او زيار لا تر اوسه زرۀ پورې کار نۀ دے شوے ـ هغه شخصيت چې اووۀ ژبې يعني اردو، پښتو، فارسي، عربي، ترکي او انګريزي زده وې. او نۀ صرف دا بلکې ليک لوست ئې هم پکښې کولے شو ـ د اردو، پښتو او فارسۍ ښۀ شاعر وۀ ـ

زۀ عجب يم هفت زبان په شاعرانو
په ارمان به نور ياران وي مونږ به نۀ يُو 1

د برټش ميوزيم د نسخې په ترقيمه کښې سيد کلام الدين کاتب ليکي:

"مهارت در چند زبان می داشت و بلکه چند دیوان بزبان فارسی و هندی و چند ملفوظات انگریزی و کشمیری و نیز ترکی تصنیف نمود و علامه عصر و اہل دل بود." 2

1 Lecturer Pakhtunkhwa Study Centre Bacha khan University Charsadda

ترجمه :۰ په څو ژبو ئې مهارت لرلو بلکې څو ديوانو نه ئې په فارسی، هندی او څۀ ملفوظات ئې انګريزی، کشميری او په ترکی کښې هم تصنيف کړي وو او د خپل وخت علامه او د دولت د خاوندانو نه وۀ ـ

دغسې قاسم علي خان افريدي په رساله افريدي کښې ليکي:

در عمر سی و نهه سال شش قطعه کتاب تصنيف ساخته يکی ديوان افريدي (پشتو) دوم خواب نامه بزبان افغانی يعنی پشتو و سيوم ديوان افريدي بزبان هندي رواج ملک هندوستان و فارسي، کشميري و هندو فرنگ بطور قاعده———— پنجم شفاعت افريدي بقصائيدات و معه غزليات چهل و يک دراذ کار سلسله قادريه و ششم رساله افريدي—3

ترجمه: د نهه ديرشو کلونو په عمر کښې ئې شپږ کتابونه، د پښتو ديوان، خواب نامه پښتو، د اردو ديوان ورسره فارسي، کشميري، هندو او انګريزي... د شپږو ژبو لغت، شفاعت افريدي او رساله افريدي ليکلې دي۰

د اردو ديوان ئې د خيال بخاري په زيار د پښتو اکيډمي له خوا په 1971ء کښې چاپ شوے دے ـ د ” قاسم علي خان افريدي کی اردو شاعري کا تنقيدی جائزه“ په نوم پرې جميل اختر اعوان د علامه اقبال اوپن يونيورسټۍ د شعبه اردو نه د ايم فِل ډګري هم ترلاسه کړې ده ـ

د پښتو په مخطوطه ئې زړۀ پورې کار نۀ دے شوے البته خيال بخاري ٤ او زلمي هيوادمل ٥ پرې څۀ نا څۀ کار کړے دے ـ د قاسم علي خان افريدي پښتو ديوان “تدوين او تحقيق” په نوم پرې راقم الحروف د ايم.فل مقاله ليکلې ده ـ د قاسم علي خان افريدي د ژوند او فن نه سربېره د هغۀ د مخطوطې تعارف د دې مضمون حصه ده ـ په دې ضمن کښې معروضي مطالعه (objective study) او موضوعي مطالعه (subjective study) راځي او دغسې د دې دواړو ذيلي قسمونه به ذکر کولے شي ـ

معروضي مطالعه (Objective Study): د دې بيا دوه برخې “متني معارض” او متني مواقف” دي ـ د دې په ذريعه د مخطوطې ظاهري او ښکاره اړخونه مخې ته راځي ـ

## متني معارض

متني معارض هغه برخه وي چې د مخطوطې د ظاهري صورت روښانه کوي لکه د کتابت د نوعيت اندازه ترې کيږي، د هئيت او صفحو باره کښې معلومات وشي ـ دغسې د کاغذ د قسم او قدامت پته ترې لګي ـ

ډاکټر تنوير احمد علوي په خپل اردو کتاب "اصولِ تحقيق اورترتيبِ متن" کښې د "تنقيدِ متن" موضوع لاندې ليکي:

> "متنی معارض میں کسی نسخے کی ہئیت، اس کی تقطیع، مسطر، تعدادِ اوراق یا صفحات، خالی ورق یا صفحے، کاغذ، قلم، روشنائی، رسمِ کتابت، تزئین، مہریں، دستخط جیسے امور موضوع گفتگو بنتے ہیں۔ نو دریافت متون کی صورت میں ان کی دریافت کی کہانی اور اس کے متعلق باتیں بھی اس ضمن میں آسکتی ہیں۔"6

> ترجمه: په متني معارض کښې د يوې نسخې پېمائش، د کرښو شمېر، خالي صفحې يا ورقونه، کاغذ، قلم، روشنايي، رسمِ کتابت، تزئين، مهرونه او دستخط وغېره باندې خبرې کولې شي ـ د نوي معلوم کړے شوي متن په صورت کښې د دريافت قيصه او ورسره تړلې نورې ضروري خبرې ذکر کېدے شي ـ

د دې سره سره د مخطوطې د لائبريرۍ نمبر، دغسې فهرست او که چرې چاپ وي نو چاپ ځاے، د اشاعت کال او د ناشر ذکر کول هم پکار دي ـ

که مونږ د قاسم علي خان افريدي د پښتو ديوان په مخطوطه نظر واچوو نو دا خبرې مخې ته راځي:

د قام علي خان افريدي د کلام مخطوطه د اسلاميه کالج لائبريرۍ په "۱۹۱۰الف" نمبر موجود ده ـ دغسې د برټش ميوزيم فهرست "۲۰ ب م" او کتب خانه نمبر ئې "او۰آر ۳۹۵" دے ـ7

په اوله صفحه مهر دے چې "بِسم الله وَ تمّم بِالخير" پرې ليک دے ـ دا صفحه دولس کرښې لري ـ د کاغذ اوږدوالے ۵۰۱۵ x ۲۲ سم او پلن والے۶ x ۵۰۸ سم دے او په هره صفحه د کرښو تعداد پينځلس دے ـ د ورقونو تعداد ۱۳۰ دے ـ ۱۰۳ نمبر په دوه ورقونو ليک دے ـ د ۱۰۲ نه

پس ۱۰۵ پورې نمبرې نۀ لري ۔ ورپسې يوه صفحه خالي دہ ۔ د ۸۹ نه پس ورق باندې نمبر نشته ۔ د کرښو شمېره او خط ئې هم مختلف دے ۔ د ۱٤ - ۱۰۰ يعنې ۱۱٤ ورق دوېم ځ خط هم بدل دے او دولس کرښې لري ۔ د ۱۱٤ نه پس ۱۱۳ ورق دے ۔ اولنے مخ ئې لس کرښې لري ۔ د حاشيې د غزلونو او ۲۳۹ نمبر غزل خط بدل دے ۔ د قلمي نسخو د قطعو په حصه کښې د کرښو شمېر مختلف دے ۔ څۀ يوولس او چرته دولس کرښې دي ۔ په اخيري صفحه د قاسم علي خان افريدي مهر دے او دغه صفحه څلور کرښې لري ۔ کتابت ئې ډېر ښۀ دے خو ځاے په ځاے پانې د جلد نه وتلې دي ۔ بعضې ځايونو کښې لفظونه د وېنو يا بل څۀ په وجه خوړلي شوي دي چې لوستلے نۀ شي ۔ د کاغذ رنګ خړبخن بادامي دے او نازک هم دے ۔

قاسم علي خان افريدے چې چرته د نظم عنوان يا رديف وار باب ليکي نو په سْره روشنايۍ ئې ليکي ۔ دغسې تخلص او نوم هم په سُور خط ليکي. تخلص دپاره چرته افريدے او چرته قاسم علي نوم د تخلص دپاره راوړي. په بعضې ورقونو د ګرانو لفظونو معنې هم په حاسيه ليکي.

## متني مواقف

په متني مواقف کښې د نسخې د مختلفو صنفونو ذکر، د شعرونو تعداد، حاشيې، منسوخ کلام، د تاليف او کتابت تاريخونه او مقام خاتمه او ترقيمه وغېره ذکرکولے شي ۔

په دې پيمانه که مونږ د قاسم علي خان افريدي کلام ته غور وکړو نو د قاسم علي خان پښتو مخطوطه مختلف صنفونه حمديه، نعتيه کلام او منقبت، چاربېتې، قطعې، رباعيانې او مخمسات لري او د شعرونو شمېر ئې تقريباً ٤۰٥۰ دے ۔

د اسلاميه کالج د نسخې کتابت سيد کلام الدين کړے خو د کتابت تاريخ نۀ لري ۔ د برټش ميوزيم د نسخې کتابت ۱۲۰۹ھ کښې شوے دے ۔8

ملي ارشيف کابل9 او د نواب صاحب رامپور10 په ذاتي لائبرېرۍ کښې ئې هم نسخې موجودې دي ۔

د اسلامیه کالج د قلمي نسخې د اخري شعرونو د داخلي شهادت نه ۱۲۰۶ھ راوځي خو بیا د دیوان دننه کلام نه ۱۲۰۹ھ ښکاره کیږي ـ11

ځینې ځایونو کښې د ګرانو ټکو معنې هم په څنډو کښې لیکلي شوي دي ـ تقریباً څلېریشت (24) غزلې داسې شته چې په حاشیو لیک دي ـ دې نه علاوه څۀ شعرونه هم شته ـ بعضې ځایونو کښې په حاشیو د ګرانو ټکو معنې هم لیکلي شوي دي، په لسمه صحفه یو شعر دے چې په هغې کرښه راښکلې شوې ده یعنې منسوخ کړے شوے دے ـ هغه شعر دا دے چې په لسمه صفحه دے:

اختلاف دے ځینې وایي په انځره کښې
چې پټي سره نزدې و د باړه

د پښتو په دیوان کښې د لیک تاریخ په ابجدي حساب قاسم علي خان افریدي داسې لیکي،

سن هجري د رسولِ خداے دے له حسابه
په ابجد دے روغ لري حرف که خبر دے12

د حرف "روغ" نه د ابجدو په حساب ۱۲۰۶ راوځي، دغسې د "غور" نه هم دغه تاریخ معلومیږي، ځکه چې حرفونه ئې یو دي، لکه دا شعر:

قاسم علي دیوان تم په یاد د حق کړه
سن هجري د محمد په ابجد غور13

او دا د دې دیوان د خاتمې تاریخ بولي، خو د دیوان د داخلي شهادت نه د غلام محمد په مرثیه کښې دولس سوه نهه هم مخې ته راځي، کیدے شي چې دا ئې وروستو اضافه کړې وي، د مرثیې شعر دا دے:

یوولس حرف و نامه ولي سره
په ابجد غلام محمد ولي نشان14

دا "غلام محمد ولي نشان " نه ۱۲۰۹ ثابتېږي. د برېټش ميوزيم د نسخې نه هم دغه تاريخ ثابت دے.

## موضوعي مطالعه (Subjective Study)

په دې ضمن کښې سوانحي، تاريخي او د چاپېرچل باره کښې معلومات ترلاسه کېدلے شي ـ داخلي يا خارجي شهادتونه د کومو نه چې استفاده شوې وي، د هغې ذکر، د املاء، ژبې، صوتي او لساني اړخونه د لفظونو او ترکيبونو بحث د دې حصه او خاصه ده ـ د موضوعي مطالعې درې قسمونه متني معارف، متني مصادر او متني محاسن دي ـ

## متني معارف

د قاسم علي افريدي د اثارو نه د هغه دور غېر جانبدار تاريخ مخې ته راځي. هغۀ چې څۀ ليدلي ګټلي يا محسوس کړي هغه ئې مخې ته راوړي دي. د هغۀ تاريخ ځکه د غور قابل دے. چې نۀ خو هغه درباري مؤرخ وو او نۀ چا د دې لپاره معاوضه يا مراعات ورکول. هغۀ د خپل دور حالات، د نوابانو خپلو کښې دښمني او انګرېزانو سره د جنګونو او معاهدو ذکر هم کړے دے او ډېر اهم تاريخي او جغرافيائي معلومات ئې بيان کړي دي. د خپل خاندان باره کښې ئې هم د تيارې نه پرده پورته کړې ده. ادبي تاريخ غېر جانبدار وي او ډېر حقيقتونه ښکاره کوي ـ ادبي تاريخ کښې يو اړخ ته تاريخ دے نو بل طرف ته د سوانح نګارۍ او تنقيد حسين امتزاج دے ـ

د مثال په توګه د نواب مظفر جنګ باره کښې ليکي:

زما اوس فرخ اباد کښې استوګه ده
نوابي د مظفر جنګ ده در اينجا
د دۀ ذات په قام بنګش کس کاغذي دے
هم نيکۀ پلار د دۀ وو لوي امراء
مذبذب بادشاهي کاندي په دا عصر

په لحظه کښې محابا بې محابا 15

په دې کښې متني شهادتونه او د هغه دور سره تړلې معلومات شامل دي يعنې په يو متن کښې د بل يو متن په اړه څۀ شهادت شته که نه ـ د يو عصر په معلوماتو کښې تاريخي حقيقت، سوانحي اړخ او تمدني چاپېرچل او تنقيدي تړون له اهميت ورکولے شي ـ16

## اردو نه ترجمه

د قاسم علي خان افريدي مخطوطه کښې تاريخي، سوانحي مواد شته ـ د هغۀ کلام کښې د نيکونو ذکر، د وطن نه د هجرت 1118ھ چې د اعظم شاه دور سره تعلق لري، د فرخ اباد تاريخي تمدني چاپېرچل ذکر، د انګرېز عاصبانه قبضه، د نوابانو خانانو او د امراء د بې حسئ بيان، د پښتنو هند ته د هجرت خبرې او د حالاتو سره د بدلون لګه چې پښتانۀ څو نسلونو نه پس خپله ژبه هېره کړي ـ قاسم علي خان افريدے وايي چې د هغۀ دور کښې د سلطان خېلو دوه درې کسانو له پښتو ورتلله ـ17

زۀ پيدا په هندوستان، پښتو مې څۀ زده؟
ولې زۀ يم اسم ګير د استاذان 18

## متني محاسن

په دې مطالعه کښې په اسلوب او خصوصيت سره په لساني اړخونو خبرې کېږي. د لغتونو په جوړښت لګه : اشتقاق، مرکب، مستعار يا مستعارې ترجمې په شکل کښې د دې نه علاوه تکرار او په تېره تېره د نوو لغتونو په جوړولو خصوصي توجه ورکولے شي. څکه چې د وخت بدلون، ارتقاء، ايجاداتو په وجه او نوې ادبي، علمي، ديني نظريو له امله نوي لغتونه ژبې ته داخلېږي او د وسعت سبب جوړېږي. د متني محاسنو په اړه تنوير احمد علوي ليکي:

"متنی محاسن میں متن کی ادبی اور لسانی خوبیاں آتی ہیں۔ادبی خوبیوں سے مراد نگارش سے متعلق ایسے حقایق ہیں جو متن کے بارے میں معلومات کا ضروری حصہ ہوں۔اس ضمن میں حسب ضرورت تراکیب تراشی،الفاظ و فکرات کی استخوان بندی اور جملوں کی ساخت کی جانب تنقیدی

اشارے کئے جا سکتے ہیں۔ لسانی مطالعے میں متن کی اپنی نوعیت کے پیش نظر اس کی زبان اور لفظیات و حروف وغیرہ کا وہ تنقیدی جائزہ شامل ہے جس کی اساس لسانی حقیقتوں پر ہو۔"19

ترجمه: په متني خوبيو کښې ادبي او لساني خوبۍ راځي. د ادبي خوبيو نه غرض د ليک انداز سره تعلق لرونکي هغه حقيقتونه دي چې د متن باره کښې اهم معلومات لري. په دې اړه د ترکيبونو د جوړښت، د لغتونو او جملو په ترتيب خبرې کېږي. د دې نه علاوه د لغتونو او حرفونو وغېره جائزه هم د لساني حقيقتونو په رڼا کښې اخستلے شي.

د پښتو ژبې په لساني اړخ کار د نيشت برابر دے او دا ډېره ضروري ده چې په لساني اړخ زړۀ پورې کار وشي ځکه چې نن سبا لسانياتو د يو سائنس شکل اختيار کړے دے او په ټوله نړۍ کښې ورته خصوصي اهميت حاصل شوے دے.

خليل باور ليکي:

"د يو کتاب ځانګړې مطالعه د يو اديب د لساني مطالعې څخه بيله نۀ ده. د ډېرو اديبانو يو کتاب يا يوه تخليقي مجموعه د هغۀ د لساني خصوصيتونو نمائنده وي، هغه کتاب د لساني مطالعې دپاره ځانګړے کېدے شي چې هغه د خپل قدامت، اسلوب او انفراديت له وجې له موجوده ژبې سره توپير لري."20

د دې اقتباسونو او حوالو نه د لساني اړخ اهميت اندازه کېدلے شي. قاسم علي خان افريدي ډېرو ځايونو کښې فارسي او هندي ترکيبونه استعمال کړي دي او عربي اثرات پرې هم غالب دي. بله دا چې د هغۀ نيکونو هند ته هجرت کړے وو قاسم علي او د دۀ پلار هم په هند کښې پيدا شوي دي. نو د دۀ د شاعرۍ لساني مطالعه د دې دپاره هم ضروري ده چې د دۀ په ژبه هندي اثراتو خپله اغېزه کړې ده.

خيال بخاري ليکي:

"د دې اهميت د ژبپوهنې يعنې لسانياتو له رويه دے چې که څوک تحقيق کول غواړي نو د قاسم علي خان افريدي ژبه د يو داسې دور ژبه ده چې دۀ لکه د

نورو پښتنو خپله ژبه پرېښودله او یوه بله ژبه "هندي" ئې خپلوله او دغه وخت کښې ئې دواړه ژبې په خولهٔ وې. یوه تلونکې او بله راتلونکې ژبه ده." 21

د قاسم علي خان افریدي دیوان کښې د املاء غلطۍ ډېرې دي او موجوده املاء سره توپیر لري لکه کشب، مرض، طیار، طربور چې اوس کسب، مرز، تیار او تربور لیکلے شي ـ دغسې څۀ چې ببل بپل پکار وو، یو ځائے ئې لیکلي دي لکه خندیکه، بغار، نمنده چې خندي که، به غار، نه مونده لیکل پکار دي ـ

د ګرائمر غلطۍ هم مخې ته راځي لکه د انسان جمع انسانونه، د چارۀ چاړونه او د حیوان حیوانونه لیکي ـ

## متني مصادر

متني مصادرو کښې هغه ټولې خبرې راځي، د کومو نه چې په متن کښې استفاده شوې وي ـ د یو مصنف د فکر چینې متني مصادر وي ـ22

قاسم علي خان افریدي په خپل کلام کښې د روښاني مکتبِ فکر د ټولو اصطلاحاتو نه فائده حاصله کړې ده ـ د لرغونو شاعرانو ذکر ئې هم کړے دے ـ د رحمان بابا او حافظ شیرازي اثر پرې هم شته ـ د قران، حدیث، عربي مقولو استعمال ئې په شعرونو کښې په ښۀ طریقه کړے دے ـ

وَ فِيْ اَنْفُسِکُمْ اَفَلاَ تُبْصِرُوْن دي
په وجود کښې کړه نظر په یار نګاه
قاسم علي یار د تا قریب په دید دے
شته ناظر، نَحْنُ اَقْرَبُ حَبْل الْوَرِيْد دے

## ماخذونه

۱: د قاسم علي خان افریدي پښتو دیوان قلمي نسخه، مملوکه اسلامیه کالج لائبرېري، ۱۹۱۰ (الف).
۲: دیوان قاسم علي خان افریدي، برټش میوزیم، بحواله مجله "پښتو" اپرېل ۱۹۷۲ء، ص ۲۵

۳: رساله افريدي، قلمي، مملوکه اسلاميه کالج لائبريري ګڼه ۱۹۱۰ (الف)

۴: خيال بخاري، قاسم علي خان افريدي، مشموله "پښتو" ۱۹۶۹ء، مخ ۱۶.

۵: هېواد مل ،زلمے، په هند کښې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه دوهم چاپ شرکت پرنټنګ پرېس لاهور ۱۳۷۳هـ ش مخ ۲۹۵ ـ

۶: علوي، تنوير احمد، ډاکټر، اصل تحقيق اور ترتيبِ متن، سنګت پبلشرز، لاهور 2002ء، ص 54,53

۷: ديوان قاسم علي خان افريدي )اردو(، ترتيب و تدوين خيال بخاري، پښتو اکېډمي پېښور، 1961ء، مخ ۱۳

۸: خيال بخاري، قاسم علي خان افريدي، مشموله" پښتو" فروري ۱۹۷۲ء، مخ ۲۷

۹: زلمے، هېوادمل، "په هند کښې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه" مخ ۲۹۷.

۱۰: کامل، دوست محمد خان، خطوط کامل، مرتبه حنيف خليل، باګرام پښتو ادبي جرګه، پېښور، جنوري ۲۰۰۰ء، مخ ۱۷

۱۱: فقير، فقير محمد، ديوان قاسم علي خان افريدي، تدوين و تحقيق، شعبه پاکستانی زبانيں، علامه اقبال اوپن يونيورسټي، ۲۰۱۲ء، ص ۴۷

۱۲: پښتو ديوان، (قلمي نسخه)،

۱۳: هم دغه

۱۴: هم دغه

۱۵: هم دغه

۱۶: علوی، تنوير احمد، ڈاکٹر، اصولِ تحقيق و ترتيب متن، لاهور، سنګت پبلشرز، 2003ء، ص 55

۱۷: رساله افريدي )قلمي نسخي(، اسلاميه کالج لائبرېري، ګڼه 1910 الف

۱۸: قلمي، پښتو ديوان،

۱۹: علوی، تنوير احمد، ڈاکٹر، اصولِ تحقيق و ترتيب متن، ص ۶۱ ـ

۲۰: خليل، باور، د تحقيق لارښود، کوټه، بلوچستان يونيورسټي، ۲۰۱۲ء، مخ ۱۵۲

۲۱: خيال بخاري، سيد، قاسم علي خان افريدي، باړه، اطلاعات و نشريات ډويژن، کال نۀ لري، مخ ۲۶.

۲۲: فقير، فقير محمد، ديوان قاسم علي خان افريدي، تدوين و تحقيق، ص 24